**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع: د لیوال لمیتد شرکت ته د تړون ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې : د افغانستان بانک د تادیاتو سیستم لوی آمریت لپاره د Nessus Professional لایسنس چمتو او نصبولو پروژه چې د DAB/1403/NCB/G32 تشخیصه نمبر لاندی د د لیوال لمیتد شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (0101-2574)شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یی لسمه ناحیه،شهر نو، کابل کی دی د تړون ټولیزه بیه/ 878,776-اته سوه اته اویا زره اوه سوه او شپږ اویا افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به تړون نه عقد کیږی.